مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکونکي: Brüder Grimm
ژباړن: رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۱/۱۰/۰۵

# تولپوه ډاکټر

## (د ماشومانو له پاره لنډه کیسه)

په تیرو وختو کې او لرې لرې پخوانیو زمانو کې یو غریب او بې وزله بزګر اوسیده، دی چنګاښ نومیده. چنګاښ دوه غوایان در لودل، یوه ورځ یې دواړه په لرګیو بار او د ښار په لور روان کړل او د دواړو غوایانو بار یې په د وه تنګو په یوه ډاکټر وپلورل. ډاکټر بزګر ته د لرګیو پیسي په داسې حال کې ور کړې، چې ښکلې میز ته په چوکۍ ناست و، ښه او خوندور شیان یې په مزه مزه خوړل او چیکل او بز ګر چې دا هرڅه ولیدل، نو په سر کې یې دا هیلې او ار مانونه را وپاریدل، چې کاشکې دی هم یو ډاکټر وی.

چنګاښ خان یوه شیبه چپ ودرید، بیا په خبرو سر شواو وغږید. د ډاکټر نه یې وپوښتل چې ایا دی هم ډاکټر کیدای شي. ډاکټر ور ته و ویل چې:« هو! ډ یر ژرډاکټر کیدی شي.» بزګر ترې وپوښتل چې:

«نو څه باید وکړم؟» ډاکټر ور ته و ویل چې لومړی د الفبا داسې یو کتاب را ونیسه چې کولنګې چرګ پکې وي؛ دوهم دا چې دواړه غوایان او کراچې دې وپلوره اوپه پیسو یې ځان ته د ډاکترۍ کالې او نور اړین سامان واخله او دریم یوه داسې لوحه را ونیسه چې په لیکل شوي وي:« زه تولپوه ډاکتریم.»

اوبیا دا لوحه دخپل کور د دروازې په سر ځوړند کړه.» څه چې ډاکټر ورته و ویل، هغه بزګر وکړل. ده یو څه ډاکټري وکړه، خو لا ډ یر وخت نه و تیر شوی چې د یوه ډېرشتمن نواب نه چا پیسې غلا کړې. یو چا نواب په دې خبر کړ چې دلته په دې کلي کې یو تولپوه ډاکتراوسیږي او دی به ضرور په دې پوهیږي چې دا پیسې چا غلا کړې دي. نواب خپله ګاډۍ په أس پسې وتړله او د کلي په لور روان شو.

د ډاکټر ځای ته ورغی او ویې پوښتل چې ایا دي هغه تولپوه ډاکټردی. ډاکټر ورته و ویل چې هو!همدا زه یم. اوس نو ډاکټر باید د نواب سره لاړ شي او د پیسو پته مالومه کړي. په دې ځای کې ډاکټر و ویل چې میر من بې هم باید ور سره لاړه شي. نواب صاحب د تولپوه ډاکټردا غوښتنه ومنله، دواړه یې په ګاډۍ کې کینول او تول یو ځای روان شول. کله چې د نواب انګړ ته را ورسیدل، د ډو ډۍ میز تیار و.

نواب و ویل چې لومړی به ډوډۍ وخورو. تولپوه ډاکټر و ویل چې هو!، خو زما میر من به هم راسره وي. او س نو تول د ډوډۍ په میز راټول شول او کله چې لومړی نوکر د ښو خوړو ډک غوري سره راښکاره شو، بزګر خپلې میرمنې ته و ویل چې:

« ښځې! دایې لومړی و.»

د ده مقصد دا و چې ګوندې دا لومړی نوکر دي چې ډوډۍ یې راوړه، خو نوکر د بزګر په خبره داسې پوه شو چې ګوندې دی لومړی غل دی. دا چې دی په رښتیا لومړی غل و، نو سخت وډار شواو دباندې یې خپلو انډیوالانو ته و ویل چې.« دا تولپوه ډاکټر په هرڅه خبر دی، دا به زموږ له پاره ښه پایله ونه لري. ده و ویل چې زه لومړی وم.» د وهم نوکر هیڅ زړه نه شو کولی چې ورشي، خو مجبور و.

کله چې دی د غوري سره وررننوت، بزګر بیا خپله میرمن وچوخوله او ورته ویې ویل چې:

« ښځې ګوره! دا دوهم دی.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

دا دوهم نوکر هم سخت وډار شو او په بیره و وت. دریم نوکر له همدې برخلیک سره مخامخ شو اوبزګر بیا خپلې میرمنې ته و ویل چې:
« ښځې! دا دریم و.»

څلورم نو کر ته ویل شوې و چې دي به په یوه سرپوښه لوښي کې خواړه راوړي. په لوښي کې چنګاښان وو. کله چې دا څلورم نوکر را ننوت، نواب ډاکتر ته و ویل چې اوس دې خپل هنر اوکمال ښکاره کړه او و وایه چې په دې سرپوښه لوښي کې څه ډول خواړه دي.

بزګر لوښي ته په ځیر وکتل، خو نه پوهیده چې په لوښي کې به څه وي. لاړ ترې ورکه شوه او چیغه یې کړه چې:

«اخ زه بې وزله چنګاښ!»

نواب چې د چنګاښ نوم واورید، نو غږ یې کړ:

«ډاکتر چې په دې راز پوه شو، نو په دې هم پوهیږي چې زما پیسې به د چا سره وي.»

نوکران سخت وډار شول او یو یې ډاکترته اشاره وکړه چې یو ځل د باندې راشه. ډاکتر ورغی او دوی ټولو ومنله چې پیسې یې پټې کړي دي. نوکرانو ډاکتر ته و ویل چې موږ دا پیسې درکوو او سربیره پر دې تا ته هم ښې ډیرې پیسې در کوو، خو ته به موږ نواب ته دغلو په توګه نه په ګوته کوې او کنه هغه به موږ په دار کړي. بیا یې له ځان سره هغه ځای ته بوتله چې پیسې یې پکې پټې کړې وې. ډاکتر په دې خوښ شو، ورسره ویې منله، بیر ته را ننوت، میز ته کیناست او نواب ته یې و ویل چې:

« ښاغلیه! اوس غواړم چې په خپل کتاب کې دپیسو پته مالومه کړم چې چیرتې دي.»

په دې وخت کې پنځم نوکرپه پټه بخارۍ ته ور وښوئید او هلته یې ځان پټ کړ. ده غوښتل ځان ته مالومه کړي چې ډاکتر په نورو کومو څیزونو پو هیږي. ډاکتر میز ته ناست دی او خپل د الفبا کتاب پاڼې اړوي او راړوي او غواړي چې کولنګي چرګ پکې پیدا کړي، خوداچې زر یې پیدا نه شو کړی، نو ویې ویل چې:

« دلته خو یې او باید را ووزي.»

په بخارۍ کې پټ نوکر ګمان وکړ چې ګوندې دی ښیي، په ډار او بیره د بخارۍ نه را و وت اوناره یې کړه چې:

«دا سړی په هر څه خبر دی.»

اوس نو ټولپوه ډاکتر نواب ته هغه ځای ور وښود چیرته چې پیسې وې، خو دا یې ورته ونه ویل چې چا غلا کړې وې. په دې توګه یې د کار په بدل د دواړو خوا وو نه ښې ډیرې پیسې تر لاسه کړې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ